۱ MARIF Weekly

د افغانستان اسلامي امارت

هفته نامه معارف اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱٤۲۳ هـ ق، مطابق ۱۳۸۱ هـ ش | شماره مسلسل (۲۷۵) | ماه شوال ۱٤٤٥ هـ ق | مطابق حمل ۱٤۰۳ هـ ش


# گشایش دو باب مدرسه از سوی سرپرست وزارت معارف در ولایت هرات



الحاج مولوی حبیب الله آغا سرپرست وزارت معارف طی سفر کاری شان به ولایت هرات، مدارس دینی روستا های کشکک و سربلند را در مناطق زلزله زده ولسوالی زنده جان آن ولایت افتتاح نمود. سنگ تهداب سه باب مدرسه دینی در ولسوالی یاد شده قبلا گذاشته شده بود که از جمله کار ساخت و ساز دو باب مدرسه مذکور به اتمام رسیده و از سوی سرپرست وزارت معارف در حالی که رهبری ریاست معارف، علماء کرام صفحه ۲

سرلیکنه

## د پوهنیز نظام د بریالیتوب راز د زده کوونکو د کورنیو په مرسته کې نغښتی

مکتب او مدرسه لکه څنګه چې له نوم څخه یې څرګندیږي، د ماشومانو او ځوانانو د شخصیت د ودې، پرمختګ، سمون او روزنې ځای ته ویل کیږي، دا چې انسان د چاپیریال زیږنده ده؛ نو په زغرده ویلای شو چې مکتب او مدرسه د انسان د شخصیت په وده او پرمختګ کې ټاکونکی رول لري. د زده کوونکو د روح، روان او شخصیت ودې ته پاملرنه د دې سبب ګرځېدلې چې یاده مسئله د پوهنیز نظام په لومړیتوبونو کې وګڼل شي.

د تربیتي اړواپوهنې پوهان په دې اند دي، چې د زده کوونکو، روح، روان او شخصیت چې د هغه د ټولو ځانګړنو استازیتوب کوي هغه وخت ښه او سالمه وده موندلی شي، چې ښوونځی او مدرسه له نورو ټولنیزو بنسټونو په ځانګړې توګه کورنۍ سره پوره او بشپړه همغږي ولري.

کورنۍ هغه لومړنۍ ښوونیزی بنسټ دی چې ماشوم پکې ژوند کوي، ماشوم خپلې لومړنۍ زده کړې له همدې ځایه پیلوي؛ نو له دې امله کورنۍ مینه او محبت ۲مخ

## د ننګرهار ولایت پوهنې رئیس د پوهنې وزارت له سرپرست سره وکتل

د ننګرهار ولایت پوهنې رئیس مفتي حبیب حضرت حقاني، د پوهنې وزارت له سرپرست الحاج مولوي حبیب الله آغا سره وکتل او د پوهنې پر اړوند موضوعاتو یې خبرې وکړې.

په یاده کتنه کې د ننګرهار ولایت پوهنې رئیس په تورخم او د یاد ولایت په نورو سیمو کې د راستنېدونکو هېوادوالو د ماشومانو لپاره د زده کړو د آسانتیاوو د برابرولو او د زده کوونکو د تحصیلي کچې د تثبیت په موخه د آزموینې د بهیر پر ځرنګوالي تفصیلي خبرې وکړې.

همدارنګه نوموړي د یاد ریاست ځینې ستونزې او وړاندیزونه د پوهنې وزارت له مشرتابه سره شریک کړل.

ورپسې د پوهنې وزارت سرپرست د ننګرهار ولایت پوهنې رئیس ته ښه راغلاست ووایه او ژمنه یې وکړه، چې د دوی د ستونزو د حل لپاره به په ګډه کار کوي.

## جلسه کاری کمیته بودیجه مالی وزارت معارف دایر گردید



مجلس کمیته بودیجه مالی وزارت معارف تحت سرپرستی مولوی صبغت الله وصیل معین منابع و اداره وزارت معارف در حالی که رئیس و کارشناسان ریاست مالی و حسابداری و شماری از روئساء و مسئولین وزارت نیز حاضر بودند، دایر گردید.

مجلس با قرائت چند آیت از کلام الله شریف آغاز شده، متعاقبا در مورد تعیین بودیجه غرض چاپ و نشر مجله عرفان، بخوان بیندیش و اخبار معارف و نصب کمره‌های امنیتی در ادارات این وزارت و خریداری وسایل تخنیکی و تکنالوژیکی و سایر موضوعات مرتبط به بودیجه سال ۱۴۰۳ مورد بحث های همه جانبه قرار گرفته و در زمینه تصامیم مقتضی اتخاذ گردید.

مجلس با قرائت دعائیه اختتام یافت.

## بلخ د علم او پوهې د ودې په درشل کې

د بلخ ولایت د پوهنې ریاست چارواکي وایي چې په یاد ولایت کې د پوهنیز نظام د لا پیاوړتیا په موخه هڅې په چټکۍ روانې



دي چې تر اوسه پورې یې د پوهنې وزارت په مرسته او د محلي چارواکو او ځایي اوسېدونکو په همکارۍ د پوهنې په ډګر کې ښې لاسته راوړنې درلودلې دي او د دې ولایت په کچه یې په زرګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې زمینه برابره کړې ده.

د هېواد د پوهنې ولایتي رئیسانو سره د( پوهنې اونیزې ) د مرکو په لړ کې مو دا ځل د بلخ ولایت د پوهنې له رئیس ښاغلي مولوي عبدالجلیل شهیدخیل سره مرکه کړې چې عمده ۲مخ

## آغاز توزیع کتب درسی برای کورس های سودآموزی در ولایت بادغیس



توزیع ۱٦٥٦جلد کتاب های درسی، فرش و مواد ممد درسی برای کورس های سواد آموزی ولسوالی های مرغاب،قادس، آبکمری، مقر و جوند صفحه ۲

## د پوهنیز نظام د بریالیتوب...

د انسان د نیکمرغی او خوښۍ سبب ګرځي او د ماشوم د ژوندانه ډېرې ستونزې له همدې لارې اواریږي. کورنۍ مینه او محبت کولای شي د ماشومانو زړه نازړه توب او کمزورې اراده پیاوړې کړي او هغوی د یو نیمکرغه او هوسا ژوند لپاره هیله من کړي؛ نو د خپلو ماشومانو د سالمې ښوونې او روزنې او دا چې هغوی د پیاوړي ایمان او ارادې خاوندان شي د هغوی لپاره کورنی چاپیریال باید له هر ډول لانجو او اختلافاتو پاک اوصاف وي.

مینه، محبت، صداقت، رښتنولي او یووالی کولای شي چې د ژوندانه ډېرې ستونزې اوارې کړي. د زده کوونکو کړه وړه او نورې ټولې ځانګړتیاوې د هغوی د کورني چاپیریال او د هغوی د میندو، پلرونو او د کورنۍ د غړو د علم، پوهې او شخصیت زېږنده او انګازه ده، د میندو او پلرونو تر منځ ناوړه چلند، د کورنۍ د غړو تر منځ نه همغږي، اختلاف، تفاوتونه د ماشومانو په ښوونه او پالنه کې افراط او تفریط د ماشومانو او اولادونو بې ځایه ملاتړ او دغه شان د کورنۍ د غړو ناسم عاطفي چال چلند هغه مسایل دي، چې د ماشومانو په بریالیتوب او ناکامۍ کې اغېزمن رول لري؛ نو له دې امله د کورنۍ چاپیریال او دکورنۍ د غړو تر منځ نیکو مناسباتو ته پاملرنه د ماشومانو او په ټوله کې د ټولنې په سلامتیا او برخلیک کې ټاکونکی رول او ارزښت لري.

د سرته رسېدلو څېړنو پایلې څرګندوي چې په تعلیم او تحصیل کې پرمختګ، ناکامي، د تعلیم او تحصیل پرېښودل زیات عوامل لري، چې ځینې یې په لاندې توګه په ګوته کوو: کورنی چاپیریال، ډله ییزې رسنۍ، همزولي او انډیوالان، د زده کوونکو رواني چاپیریال، انګېزنې، شخصیتي ځانګړتیاوې پخواني معلومات او د ښوونکو او ښوونځي هیلې او غوښتنې، دا ټول هغه څه دي چې کولای شي د ماشومانو او ځوانانو په بریالیتوب کې اغېزمن ثابت شي، یا هغه د منکراتو سیلاو ته ورتیل وهي.

له پورتنیو یادونو څخه دې پایلې ته رسیږو چې کورنۍ د ماشومانو په وده او پرمختګ کې ټاکونکی رول لري او د زده کړو او مهارتونو د انتقال اصلي سرچینه پېژندل شوې ده، اړینه ده چې د روغو، سالمو او غوره اولادونو د درلودلو لپاره کورني ژوند او کورنۍ ته چې د ټولنیز ژوند کوچنی واحد ګڼل کیږي، زیاته پاملرنه وشي. میندې او پلرونه چې د کورنۍ او په ټوله کې د ټولنې د سیاسي، ټولنیز، فرهنګي او اقتصادي بهیر مرکزي لوبغاړي دي باید د یوې سالمې ټولنې د رامنځته کولو لپاره چې په هغه کې د سوله ییز او انساني ژوندانه ټول تهذیب شتون ولري، د خپلو اولادونو په سالمه ښوونه او روزنه کې د ننني وخت او علومو د غوښتنو سره سم هڅه وکړي او د نوموړي بهیر د بریالیتوب لپاره خپلې هڅې له ښوونځي، ښوونکو او د ښوونځي له مدیرانو سره همغږې کړي؛ څو ښوونځی او ښوونکي په دې وتوانیږي چې د ښوونې او روزنې په ډګر کې اغېزمن ګامونه پورته او په ډاډه زړه عمل وکړي. که کورنۍ د خپلو اولادونو په ښوونه او روزنه کې سست او بې تفاوته کړنه تر سره کړي؛ نو د دې هیله او توقع دې نلري چې کرونده به یې ښه حاصل ورکړي.

په پایله کې باید په ډاګه وویل شي، چې یوازې ښوونکي د درنو میندو او پلرونو له بشپړې همکارۍ پرته نشي کولای خپلو پوهنیزو موخو ته چې هغه د هیواد د اولادونو سالمه ښوونه او روزنه او د یوې با تهذیبه، نیکمرغه، هوسا او بسیا ټولنې جوړول دي، ورسیږي. کورنۍ او والدین باید په دې پوه وي چې د ښوونځي د بریالیتوب راز د میندو او پلرونو په همکارۍ او مرستو کې نغښتی دی.

## گشایش دو باب مدرسه ...

منورین و استادان نیز حاضر بودند، رسما افتتاح و به بهره برداری سپرده شد. قرار است در آینده نزدیک مدرسه قریه نائب رفیع نیز گشایش یابد.

مجموع مصارف ساخت مدارس یاد شده حدود ده میلیون و ۷۰۰ هزار افغانی می باشد.

سرپرست وزارت معارف در سخنانی به عرضه خدمات تعلیمی و تربیتی برای اولاد وطن تاکید کرده، از والدین خواست تا فرزندان شان را به مدارس و مکاتب بفرستند.

در ادامه چند تن به نمایندگی از سایرین صحبت نموده از حمایت های شان با معارف اطمینان دادند. همچنان الحاج مولوی حبیب الله آغا سرپرست وزارت معارف در حاشیه سفر رسمی خویش به ولایت هرات از لیسه ذکور انقلاب اسلامی و یک تعداد نهاد های تعلیمی و تربیتی خصوصی نیز دیدار کرد.

سرپرست وزارت معارف در این دیدار ها با مسئولین، معلمین و شاگردان مکاتب یاد شده در مورد پیشرفت ها و مشکلات آنها با هم صحبت نمودند.

سرپرست وزارت معارف به عرضه خدمات تعلیمی و توسعه معارف متوازن در سراسر کشور تاکید کرده از باشندگان ولایت هرات خواست تا از پلان ها و برنامه های این وزارت حمایت مستمر نمایند.

متعاقباً در مورد حل مشکلات آنها وعده همکاری سپرده و پیشنهادات سازنده آنها را نیز استماع کرده و از آن استقبال نمود.

## بلخ د علم او پوهې ...

ټکو ته به یې پدې لیکنه کې ځای ورکړو.

د بلخ ولایت د پوهنې رئیس وایې په دې ولایت کې ټولټال ۷۶۸ دولتی ، ۱۶۶ خصوصي ښوونځي او ۱۰۲۸ کلیوالي مدرسې شتون لري چې په یادو ښوونیزو مراکزو کې د ۶۰۰ زره په شاواخوا کې نجونې او هلکان په زده کړو بوخت دي چې ددوی درسي بهیر د ۱۴ زره ښوونکو لخوا پر مخ وړل کیږي. دده په وینا په تېرو دوه کلونو کې په سلګونو خیالي ښوونکي چې معاش به یې تر لاسه کولو خو دندو ته به نه حاضرېدل تثبیت کړي چې له دې ډلې کوم کسان چې خپلو دندو ته حاضر شوي په خپل ځای پاتې او کوم شمیر چې دندې ته نه حاضرېدل له دندو ګوښه او پر ځای یې نوی کسان په دندو ګمارلي دي.

د بلخ پوهنې رئیس په تېر جمهوري نظام کې د مدرسو لپاره په ځانګړې توګه د بلخ ولایت په لېرې پرتو سیمو کې هېڅ پاملرنه نه وه شوې دده په وینا د جمهوریت په وخت کې د بلخ ولایت په کچه ۴۲ رسمي مدرسو شتون درلود چې دا مدرسې هم ډېرئ په مرکزي سیمو کې وې په لېرې پرتو سیمو کې په نشت حساب وې خو تر فتح وروسته د عالیقدر امیر المؤمنین شیخ هبته الله اخندزاده له لوري د هېواد په کچه د مدرسو لپاره د سل زره بستونو اعلان موږ ته دا فرصت راکړ چې په ټول بلخ ولایت کې د مدرسو ودې ته لا زیاته پاملرنه وکړو . د نوموړي په وینا د پوهنې وزارت په همکارۍ د دیني مدرسو لپاره ۵ زره بسته ځانګړې شول چې پدې سره اوسمهال د بلخ ولایت په کچه د زرو په شاوخوا کې دیني او کلیوالي مدرسې لرو چې لا هم بسنه نه کوي او د ۳۵۰۰ په شاوخوا کې نورو بستونو ته هم اړتیا ده چې پدې برخه کې مو هڅې پیل کړې چې په نږدې راتلونکې کې به ددې بستونو په منظورۍ سره په ټول ولایت کې د بلخ اوسېدونکي د ښوونځیو تر څنګ په دیني مدرسو کې هم د زده کړو زمینه برابره شي.

د بلخ ولایت د پوهنې رئیس زیاتوي چې ددې ولایت اوسېدونکي له معارف سره ځانګړې مینه لري او له دوی سره د پوهنیز نظام په پیاوړتیا کې پوره همکاري کوي. دده په وینا د پوهنې ریاست په هڅو ، د خلکو او سوداګرو په مرسته او د ولایت مقام په ځانګړې پاملرنې په لېرې پرتو سیمو کې ۳۲ کلیوالي مدرسې جوړې شوېدي، همداراز د دوه کلونو په بهیر کې د پوهنې وزارت له انکشافي بودیجه څخه د یاد ولایت په بېلابېلو سیمو کې ۱۷ ښوونځیو ته نوې ودانۍ جوړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې او د ۳۷ ښوونځیو ودانۍ په اساسي ډول ترمیم شوېدي چې په دې سره ددې ولایت په زرګونو زده کوونکو ته د زده کړې خوندي چاپیریال برابر شوی دی.

له پاکستان او ایران څخه د راستانه شوو په سلګونو زده کوونکو ته د زده کړو د زمینې برابرول او د سږ کال په بهیر کې د کتابونو د کمښت ستونزې ته د رسېدنې په موخه د ۳ میلیونه ټوګو کتابونو ویش هم له هغه لویو لاسته راوړنو څخه شمېرل کیږي چې د بلخ ولایت د پوهنې رئیس ورته اشاره وکړه. هغه همداراز په یاد ولایت کې د یو شمېر ښوونځیو د ودانۍ نه شتون او د مسلکي ښوونکو کمبود ددې ریاست په وړاندې ننګونې بولي چې دده په وینا کوښښ کوي په نږدې راتلونکې کې دا ستونزه حل شي. نوموړی په راتلونکې کې د ښوونځیو د استاذانو د ظرفیت لوړل له خپلو اساسي پلانونو یادوي تر څو ښوونکي وکولای شي د هېواد بچیان په سالمه توګه وروزي.

په پای کې د پوهنې رئیس وویل چې دوی به هڅه وکړي د جوماتونو د ممبر له طریقه هېوادوال وهڅوي تر څو خپل بچیان د علم په ګاڼه سمبال کړي.

## آغاز توزیع کتب درسی ...

ولایت بادغیس آغاز گردید.

در مراسم شروع توزیع مواد یاد شده، ضمن اشتراک رهبری ریاست معارف آن ولایت، شماری ازعلماء کرام و منسوبین معارف نیز حاضر بودند.

مسئولان ریاست معارف در جریان توزیع مواد یاد شده، اظهار نمودند که شاگردان باید از کتاب ها و مواد ممد درسی استفاده درست نموده و در نگهداشت کتاب های درسی توجه جدی داشته باشند.

قابل یاد آوریست که در ولایت بادغیس مجموعا ۴۷ باب کورس‌های سواد آموزی فعالیت دارد که ۱۲۸۵ تن سواد آموز در این کورس ها مصروف می‌باشند.

## د پوهنې وزارت سرپرست فراه ...

پر ټاکلي وخت د اصولو مطابق ترسره کړي.

ورپسې د فراه ولایت د پوهنې ریاست اداري آمر د پوهنې وزارت سرپرست او ورسره مل پلاوي ته د ښه راغلاست ترځنګ، د دغه پلاوي د وړاندیزونو او لارښوونو د پلي کولو ډاډ ورکړ.

په پای کې د پوهنې ریاست مسئولینو یو لړ وړاندیزونه او ستونزې د وزارت له مشرتابه سره شریکې کړې.

غونډه د دعائیې په لوستلو سره پای ته ورسېده.

## تقدیر رییس معارف ولایت کنر...

و توسعه مدارس ومکاتب به روستا های ولایت یاد شده، از طرف رهبری مقام ولایت یاد شده با اهدای تحسین نامه، مورد تقدیر قرار گرفت.

موصوف در سخنانی، از اهدای تحسین نامه از جانب رهبری ولایت کنر قدردانی نموده، تعهد کرد که با تمام توان در جهت شکوفایی معارف آن‌ولایت تلاش های شبانه روزی خواهد نمود.

## د ولایتونو پوهنې برخه کې څه تیریږي

### جوزجان

د جوزجان ولایت د پوهنې ریاست له لوري په قوشتیپې ولسوالۍ کې د قیچاق لومړني ښوونځي د ودانۍ د بنسټ ډېره د ۳ میلیونه افغانیو په ارزښت کېښودل شوه. د یاد ښوونځي مالي لګښت د معارف دوسته هېوادوالو له لوري ورکول کیږي.

### بدخشان

بدخشان ولایت د پوهنې ریاست په همغږۍ د یاد ولایت د شغنان ولسوالۍ په جاوید او شېخان کلیو کې د ځایي خلکو په مرسته د دوه بابه ښوونځیو د جوړولو چارې پیل شوې. د دواړو ښوونځیو ځمکه او د ۱۵ درسي خونو مالي لګښت د سیمې د خلکو له لوري ورکول کیږي.

### غزني

د غزني ولایت د واغظ ولسوالۍ په شهید عبدالکبیر لیسه کې د ۵۰ زره امریکایي ډالرو په ارزښت د کمپیوټر خونه تاسیس او د یو لړ مراسمو په ترڅ کې د زده کوونکو په مخ پرانیستل شوه. دغه راز یاده کمپیوټر خونه په تخنیکي تجهیزاتو، لمریزې بریښنا، میزونو، څوکیو او داسې نورو اړینو وسایلو سره سمبال شوې ده.

### کابل

د کابل ښار په یوولسمه ښوونیزه ناحیه کې یوه با احساسه وګړي د زلیخا نجونو عالي لیسې ته د ۴۵ زره افغانیو په ارزښت د لمریزې بریښنا سیستم فعال کړ. د کابل ښار پوهنې ریاست ددغه زړه سوانده هېوادوال له نېک احساس څخه مننه او قدرداني وکړه.

### فراه

د فراه ولایت پوهنې ریاست د ۱۰ میلیونه او ۵۷۷ زره افغانیو په لګښت سره ۱۷ بابه ښوونځي تر بیا رغونې وروسته د یو لړ مراسمو په ترڅ کې ګټې اخیستنې ته وسپارل.

### لوګر

د لوګر ولایت پوهنې ریاست د ۱۴۰۳ ښوونیز کال په پیلېدو سره له زده کړو بې برخې ماشومانو ته ۴ نوي لومړني ښوونځي په مرکز پل علم او خروار ولسوالۍ کې تأسیس کړل.

### زابل

ریاست معارف ولایت زابل به همکاری یک نهاد حمایت کننده، ورکشاپ ۱۲ روزه میتودیک را تحت عنوان« پروگرام ترویج آموزش و یادگیری موثر برای معلمان» برای شماری از استادان مکاتب و اعضای علمی انکشاف مسلکی معلمین راه اندازی نمود.

### خوست

در ولایت خوست به ارزش ۵ میلیون و ۵۰۰ هزار افغانی تعمیر دو باب لیسه به صورت اساسی ترمیم و باز سازی شده است.

همزمان با آغاز سال جدید تعلیمی ۱۴۰۳ برای صدها تن از اطفال در ولایت های لوگر و بغلان که در گذشته از رفتن به مکاتب محروم بودند ۵ باب ابتدائیه جدید ایجاد گردید.

### پروان

د پروان ولایت پوهنې رئیس مولوي سید محمد فیضي، د جبل السراج له ولسوال سره په ګډه د بی بی فاطمه الزهراء (رضی الله عنها) له دارالحفاظ، امام اعظم (رحمه الله) له مدرسې او ابوذرغفاري له عالي لیسې څخه لیدنه وکړه.

د یو بل خبر له مخې:

د پروان ولایت پوهنې ریاست د یو مرستندویه بنسټ په همکارۍ، د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه، د ښوونځیو ۲۸ تنو ښوونکو او علمي غړو ته « د ښوونکو لپاره د اغېزمنې ښوونې او روزنې د پراختیا پروګرام » تر سرلیک لاندې ۱۲ورځنۍ میتودیک ورکشاپ پیل کړ.

# ولې مو درس هيرېږي؟

**ليکوال : سميع الله ريحان**



دا چې څنګه کولی شو په ښه ډول درس ياد کړو او خپلې اوږد مهالې حافظې ته يې وسپارو، خورا ډېر لوی بحث ته ضرورت ده. خو زه غواړم دلته په ډيرو مهمو مسايلو باندې بحث وکړم چې هغو کسانو سره يې مرسته کړې ده چې، له ورته مشکل سره مخامخ وو.

۱- تاسو بايد درس ته چمتو واوسئ درس ته له ذهني لحاظه آماده ګي د ښه درس زده کولو لپاره تر ټولو مهم مورد ده، يعنې کله چې تاسو چيرته درس شروع کوی او يا هم د امتحان لپاره مطالعه کوئ نو تاسو بايد په ذهني ډول ارام واوسئ. ژورخفګان، استرس، ذهني مخشوشات بايد ونلری. د ځينو نورو مسايلو په هکله چې هغوی ته فکر کول مو ذهن ګډوډوي او د مطالعې په جريان کې مو تمرکز له منځه وړي بايد له منځه يې يوسئ او له هغه وروسته مطالعه شروع کړئ. يعنې تاسو مخکې له مطالعې بايد ټول ذهني اختلالات او ذهني فشارونه له منځه يوسئ او له هغې وروسته درس شروع کړئ.

۲- ورزش وکړئ: تاسو پوهيږی ورزش نه يوازې د جسمي ودې لپاره ډيره ګټه لري، بلکې تر څنګ يې د ذهني فشارونو، ژور خفګان، استرس، د حافظې ستونزې او دې ته ورته نورو ذهني نا آراميو په له منځه وړلو کې ډېر زيات او مهم رول لري. او ورزش کول د ښه درس په يادولو کې او د حافظې په تقويت کې درسره تر هر څه ډيره مرسته کولی شي.

۳- د درس نوټ کول: کله چې مو له يو مطلب يا درس څخه خپل فهم واخيست او له ځان سره مو وسنجاوه او بيا د هغه ليکل يا نوټ کول د ښه درس په يادولو کې ډيره مرسته کولی شي.

۴- د درس لپاره يو ښه محيط انتخابول: بايد په ياد ولرئ هغه محيط چې تاسو پکې مطالعه کوئ ايا ستاسو لپاره ارام ده؟ له شور او غالمغال څخه لرې ده؟ په خوا کې به مو ماشومانو تلويزيون او کوم محرک درته مزاحمت نکوي؟ دا ډير ضرور ده چې د درس په وخت کې بايد ستاسو محيط ډير آرام او د مطالعې لپاره مساعد وی. که تاسو په داسې ځای کې درس واياست چې د تلويزيون غږ اورئ، د ماشومانو شور اورئ، د موبايل د پيغامونو آواز اورئ او داسې نور ګڼ شمېر شيان مو تر څنګ ايبنې چې ستاسو ذهن د درس په بهير کې ګډوډې له ځان څخه يې لرې کړی. يعنې د يو ښه او آرام چاپېريال ټاکل د ښې مطالعې لپاره يو تر ټولو مهم مورد دی.

۵ - د درس تکرار: د ښه درس په يادولو کې لومړی د يو درس په ښه ډول يادول، بيا يې تحليل کول او وروسته يې جذب ته سپارل ډير مهم موارد دی. له دې ټولو پروسو وروسته د درس بيا بيا تکرارول تاسو سره ډيره مرسته کولی شي چې په ښه ډول درس ياد کړی.

# شکست طفل از اينجا آغاز می‌شود

لت و کوب طفل به خاطر اشتباه و خطای که از او سر زده بزرگ ترين سبب شکست او در زنده گی اش ميگردد، متاسفانه در افغانستان اين امر عادی و معمول است.

خيلی راه های تربيتی ديگری وجود دارد که ميتوانيم کودک مانرا به اشتباهش متوجه ساخته و او را از تکرار ان باز داريم.

**نصيحت:** از روش های که ميتوان در اين زمينه کار ساز باشد نصيحت و گفتگوی مؤدبانه و دلسوزانه به اوست.

**جايزه دادن:** در کاهش اشتباهات با فرزند تان وعده دهيد که اگر فلان کار اشتباه را تکرار نکرد در اخير هفته به او جايزه می‌دهد.

**بيان داستان های نيکان:** کوشش شود جهت تربيه درست طفل داستانهای بزرگان دين از انبيا عليهم السلام، صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم، تابعين و تبع تابعين همچنان سيرت کودکانه آنها را به او بازگو نماييد که اين خود تاثير خوبی دارد.

**ناراحت شدن از او:** اگر طفل تان چندين بار يک اشتباه را مرتکب شد خود را از او ناراحت گونه جلوه دهيد که اين خود تاثير خوبی در ترميم اشتباهات کودک دارد.

**نصيحت از طريق دوست:** اگر احيانا فرزند شما به سخن



شما توجهی ندارد فردی را پيدا کنيد تا نزديک ترين رابطه دوستی با او را داشته باشد سپس از او بخواهيد فرزند تانرا نصيحت کند.

# خرما او غذايي اهميت

د انسان ډېر سرو کار او عادت معرفت پټوي، کله د يو څيزاصل ته د انسان پاملرنه نه وي، پدې اند وي چې په هرڅه يې خبر دی، خو کله يې چې وڅېړي او ژور فکرپرې وکړي، خپلو نيمګړتياوو ته متوجه شي! د پورتنۍ وينا تصديق زياتره پر خرما کيږي، هغه دا چې موږ يې اصل نه پيژنو ځکه چې موږ ډېر سروکار ورسره لرواو ګومان کووچې پرهرڅه يې پوهيږو! کجوره د خورما د ونې ميوه ده تر پخېدو مخکې پر يوشمېر پړاوونو تېرېږي، چې ړومبي ته يې (الطلح) يا Spadix وايې، ورپسې د (الخلال) پړاو ته رسي، بيا (البلح) يا Unripe ناپخه بلل کېږي، وروسته د (البلح) پړاو ته ننوزي او له (الرطب) يا Wet مرحلې وروسته د (التمر) د مرحلې په رسېدو سره پخه خورما بلل کيږي.

خورما او تاريخ:

د فراعنه وو ( د مصر پخوانيو پاچاهانو) د قبرونو کيندنې څرګنده کړې ده چې خورماهغه وخت هم ډېر قدر درلود آن تردې چې دوی به د خپلو معابدو پر ديوالونو د خرما نقشونه اورسمونه کښل، او د خورما د ټولو ډولنو ستاينه به يې کوله، او د قبطيانود رهبانوپه زياتره خانقاوو کې د خورما په اړه زيات شمېر ليکنې راغلې دي چې درهبانو اوقساوسه وو په نزد يې مهم خواړه بللي دي.

خرما په قرآن او احاديثو کي

قرآن کريم د (النخل) او (النخيل - د خورماونې) لفظ شل ځله ذکر کړی: د ياسين سورت۳۴ايت، د النحل سورت۱۱ايت، د الرعد سورت۴ايت، د مريم۲۵-۲۶ايتونه، قرآن کريم يې يادونه بابيزه نده کړې، بلکې پدې موخه يې يادونه کړې چې خورما زياتې روغتيايي ګټې لري. په سنتو او أحاديثو کې هم د خروماستاينه او يادونه شوې: نبي صلی الله عليه وسلم فرمايلي: (کله چې يوله تاسې څخه روژه ماتوي، پرخورما يې د ماته کړي، که نه وي د اوبو په وسيله د ماته کړي ځکه چې اوبه پاکوالی دی). بل ځای يې داسې مهرباني کړې: (هغه کور چې خورما پکې نه وي، غړي يې وږي دي

# دخپل شخصيت جوړونې په فکر کې شی

**نصرت منصور**



دا فکر وکړی چې څنګه زه يو شخصيت جوړېدلی شم؟ موږ په ټولنه کې دوه قسمه خلک لرو: يو هغه چې کومه نيمګړتيا ورپه ګوته کړای شي، نو هغوي ځانته شي او په دې فکر کوي چې ماته يې ولې؟ پېغور راکړ، زه يې ولې؟ ورټلم، ځان کم احساس کوي، دا ډول خلک به په ژوند کې هيڅکله هم بريالي نشي او شخصيت يې تاواني شخصيت بلل کيږي.

دوهم : هغه خلک دي چې په پېغور ورکولو او دنيمګړتيا په ورښودلو سره خوشحاله کيږي، هغوې فکر کوي چې دا مې ريښتنی دوست دی، ماته يې خپله نيمګړتيا را په ګوته کړه، هغوی په هغه نيمګړتيا چې دوی يې لري داصلاح په فکر کې شي، خپلې غلطۍ دختمولو لپاره هڅه او کوښښ کوي ترڅو له دوی څخه سالم شخصيت جوړ شي او ټولنې ته په عالي شان سره ښکاره شي .

دا ډول خلک ګټونکي او تل دښه شخصيت درلودونکي دي .

په ياد ولری، خپل ځانونه په دوهم ډول خلکو کې راولی او له هغه چا مه خفه کيږی چې تاسو کې موجودې نيمګړتياوې در په ګوته کوي .

خپلې نيمګړتياوې مو اصلاح کړی او له ځانونو څخه ښه شخصيت جوړ کړی.

ستاسو کړه، وړه ستاسو شخصيت په ګوته کوي، هڅه وکړی چې خپلې کړنې مو مثبت لوري ته سېده کړی.

# څنګه ښه وېناوال شو؟

**سردار محمد سمسور**

**د کم جرأتۍ مهم لاملونه**

د نړۍ په کچه به مو ښه ويناوال يا هم ښه ويونکي ليدلي وي زموږ په پښتنه عامه اصطلاح چې هغوی د مور په ګېډه کې ښه ويناوال نه دي پيدا شوي بلکې هغوی د ډېر تمرين او کوښښونو وروروسته دغه مقام ته رسيدلي

د ښه وينا وال کېدو لپاره تر ټولو مهم جرأت دی چې متأسفانه زموږ اکثر ځوانان جرأت نلري د کم جرأتۍ ځينې لاملونه په لاندې ډول دي.

۱- په کور کې د مور او پلار له لوري ماشومانو ته په خبرو يا ويناوو کې وخت نه ورکول

يعنې زموږ په ټولنه کې چې ماشوم يا هم ځوان د مشرانو په مخکې خبرې يا هم کومه وينا کوي د مور او د کورنۍ د مشرانو لخوا وخت نه ورکول کيږي او نه يې خبرو کولو ته پريږدې چې په مجلس کې وغږيږي چې دا کار د ماشوم په جرأت منفي آغيز کوي.



۲- ماشوم د لوبو او نورو تفريحي کارونو لپاره د کور نه د باندې نه پريښودل چې په دې کار سره هم ماشوم بې جرأته لويږي

۳- په ځان باور نه درلودل

په ځان باور نه درلودل د افغان ځوانانو لپاره يوه ستره ننګونه ده چې ډېر افغان ځوانان پر ځان باور نلري

۴- په ښوونځي او پوهنتونو کې زده کوونکو يا هم محصلينو ته وخت نه ورکول او د زده کوونکو نه ارزيابي کول

له بده مرغه به ووايم چې دا کار زمونږ په هېواد کې په هر ښوونځي او پوهنتون کې اوج ته رسيدلی استاد يوازې د خپل معاش لپاره تدريس کوي او ځينې زده کوونکي هم د وخت تيرولو لپاره، چې دا کار هم اکثر ځوانان کم جرأته کوي

بل ډېر مهم د ښه وينا وال کيدو لپاره پراخه او ژوره مطالعه پکار ده ، پراخه مطالعه کولای شې چې يو شخص دا وړتيا پيدا کړی چې تر ډېره د ستيج پر سر وغږيږي.

Newspaper
Marif
Weekly

مسئول مدیر: سعید «جلال»
کتنپلاوی: مولوی عزیز احمد «ریان»
الحاج مولوی شهاب الدین «ثاقب»
قاری منصور أحمد «حمزة»
معراج «زمانی»
محمد اکرم «وفادار»
محمد نسیم «عیاذ»
عبدالصبور «غفرانی»
انځور اخستونکی: محمد اشرف «رسولی»
ډیزاینر : محمد قسیم «نادم»

تیراژ: ۲۰۰۰
پته: د کابل ښار، غازی محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د پوهنې اوونیزی مدیریت

**علاقه مندان معارف و نویسنده گان گرامی!**
شما می توانید انتقادات، پیشنهادات و نوشته های خود را جهت چاپ به ایمیل آدرس ذیل ارسال نمایید.
Marifnewspaper۱۹۱۹@gmail.com
د اړیکې شمېره: ۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 275,2024

# د پوهنې وزارت سرپرست فراه ولایت ته په رسمي سفر ولاړ



د پوهنې وزارت سرپرست الحاج مولوي حبیب الله آغا او ورسره مل پلاوی، د هېواد د ولایتونو د پوهنیز وضعیت د ارزونې په دوام فراه ولایت ته ورسېد.
د پوهنې وزارت سرپرست د یاد ولایت د پوهنې ریاست له منسوبینو سره په کتنه کې، سویل لوېدیزو ولایتونو ته د پوهنې وزارت د مشرتابه د سفر اساسي موخه بیان کړه.
دغه راز نوموړي دیني او عصري علوم د هېواد د پرمختګ او د ټولنې د سمون بنسټ وباله او څرګنده یې کړه، چې د پوهنې وزارت د هېواد په ټولو برخو کې د ښوونیزو بنسټونو د جوړولو او د درسي کیفیت د لوړولو په برخه کې پرله پسې هلې ځلې کوي.
د پوهنې وزارت سرپرست زیاته کړه: لله الحمد، د الله تعالی په فضل او کرم او د شهیدانو د وینو او قربانیو په برکت سره اوسمهال په ټول افغانستان کې د محمدي سنتو د پلي کېدو لړۍ روانه ده او دا یو الهي نعمت دی.
همدارنګه نوموړي وویل، چې د مدارسو او ښوونځیو تر منځ به هغه واټن له منځه یوسي، کوم چې د تېرو حکومتونو له لوري رامنځته شوی دی او له مامورینو یې وغوښتل، تر څو له مراجعینو سره ښه چلند وکړي او خپلې چارې ۲مخ

## د بدخشان ولایت په پوهنې ریاست کې رقابتي آزموینه په لاره واچول شوه

د بدخشان ولایت په پوهنې ریاست کې رقابتي آزموینه په لاره واچول شوه
د بدخشان ولایت پوهنې ریاست په یاد ولایت کې د مدارسو او دارالعلومونو لپاره د ور استادانو د ګمارلو په موخه، له ۲زره۲۶۳ تنه نوماندانو څخه آزموینه واخیسته.



د یاد ریاست د مسئولینو په وینا په دې آزموینه کې دوه زره ۲۶۳ نوماندانو ګډون درلود چې ترآزموینې وروسته به هغه کسان چې معیاري نمرې تر لاسه کړي، د ښوونیزو بنسټونو په ۳۲۸ بستونو کې به د استادانو په توګه په دندو وګومارل شي.
د بدخشان ولایت پوهنې رئیس مولوي محراب الدین اقبال په مرکزي حوزه کې د یادې آزموینې له بهیر څخه د لیدنې پر مهال له مسئولینو وغوښتل، تر څو د اړیکو پر ځای اصولو ته لومړیتوب ورکړي او په خپلو ارزونو کې دې عدالت په پام کې ونیسي.
همدارنګه نوموړي په آزموینه کې ګډون کوونکو ته ډاډ ورکړ، چې په پوره روڼتیا سره به حق حقدار ته ورکول کېږي.
د آزموینې په تالار کې د یاد ولایت د پوهنې رئیس او مسئولینو سربېره، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو ریاست چارواکو او د نورو سیمه ییزو ادارو یو شمېر استازو هم حضور درلود.

## تقدیر رئیس معارف ولایت کنر از سوی مقام رهبری آن ولایت



مولوی محب الله حیدری رئیس معارف ولایت کنر به پاس خدمات شایسته شان در امر بهبود وضعیت تعلیمی و تربیتی آن ولایت، جلب کمک های نهاد های خیریه، فراهم آوری سهولت های لازم تعلیمی برای فرزندان مهاجرین عودت کرده از کشور پاکستان به ولایت کنر صفحه۲

## له ۷ زرو او ۵۰۰ تنه مجاهدینو او راستنېدونکو افغان کډوالو څخه د سویې د تثبیت آزموینه واخیستل شوه

د پوهنې وزارت د کرنلارې له مخې، په کابل، غزني، لوګر، بدخشان، خوست، پنجشېر او تخار ولایتونو کې له ۷ زرو او ۵۰۰ تنه مجاهدینو او له راستنېدونکو افغان کډوالو څخه د سویې د تثبیت آزموینې واخیستل شوې.
د یاد ولایتونو چارواکو د مجاهدینو د زحمت او سرښندنې د ستاینې په ترڅ کې په ډاګه کړه، چې دوی د جهادي بوختیاوو له امله د خپلو زده کړو له دوام څخه پاتې شوي وو.
همدا راز چارواکو د یادې آزموینې د ترسره کولو له امله د پوهنې وزارت له مشرتابه څخه مننه او قدرداني وکړه.
دغه راز د پوهنې مسئولینو د آزموینې د بهیر د روڼتیا ډاډ ورکړ او ویې ویل، چې په آزموینه کې بریالي شوي کسان به د ښوونځیو په یوولسم او دولسمو ټولګیو کې شامل شي.



## په لوګر ولایت کې یو باب ښوونځی پرانیستل شو

د لوګر ولایت محمدآغې ولسوالۍ اړوند د کتب خېلو عالي لېسې د ودانۍ د بیارغونې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.
د یادې لېسې د پرانیستې په مراسمو کې، د دغه ولایت د پوهنې ریاست پر مسئولینو سربېره علماوو او قومي مخورو هم حضور درلود.
د لوګر ولایت پوهنې ریاست مسئولین وایي: د یاد ښوونځي په بیارغونه کې د دروازې او کړکیو نوي کول، د احاطوي دېوال جوړول، د ودانۍ رنګول، د درسي خونو، مېزونو او څوکیو رغول شامل دي.
د مسئولینو د معلوماتو له مخې: پر یادې پروژې څه باندې ۱۲۰ زره افغانۍ لګښت راغلی، چې د محمد آغې ولسوالۍ د پوهنې دوستو خلکو له خوا ورکړل شوی دی.
د یادونې وړ ده، چې د دغه ښوونځي په رغولو سره د ۱۰۰۰ تنه زده کوونکو لپاره د زده کړې مناسب چاپېریال برابر شو.
د لوګر د پوهنې ریاست مشرتابه د دغه بااحساسه خلکو له مالي ملاتړ څخه د منني ترڅنګ، له هغوی وغوښتل، تر څو خپل ماشومان د دیني او عصري زده کړو په موخه، مدارسو او ښوونځیو ته واستوي.

# پوهه په یوازیتوب کې هم یو ستر ځواک دی